بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 406

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# ټانک؛ خوارج له سترې ناکامۍ سره مخامخ شوی، 3 ځانمرګو بریدګرو په ګډون 5 خوارج وژل شوي

ټانک د تحریک طالبان پاکستان خوارج په دریو ځایونو کې د ځانمرګو بریدونو هڅه وکړه۔ امنیتي ځواکونو او پولیسو بریدونه شنډ کړل او 5 خوارج یې دوزخ ته ولېږل۔

خوارجو هڅه وکړه چې په ټانک کې د امنیتي ځواکونو پر کمپ برید وکړي، خو له اغېزمن ځوابي اقدام وروسته وتښتېدل۔









په عین حال کې د ټانک پولیس لائنز په سیمه کې د دریو ځانمرګو په شمول څلورو ترهګرو د استوګنې سیمې ته د ننوتلو هڅه وکړه۔

امنیتي ځواکونه په وخت د پولیسو مرستې ته ورسیدل او د ګډو عملیاتو په پایله کې یې یو بل ځانمرګی بریدګر او یو بل ترهګر ووژل، په دے برید کي د پولیسو دری ځوانان هم په شهادت رسیدلي دي۔

په دریم برید کې 6 ترهګرو په درنو وسلو سره برید وکړ او د امنیتي ځواکونو کمپ ته د ننوتو هڅه یې وکړه۔ امنیتي منسوبینو په ډېر ښه شان سره ځوابي برید وکړ او یو تن ترهګر یې وواژه او پاتې ترهګر د خپل وژل شوي ملګري په پرېښودو سره په تېښته بریالي شول۔

د ټي ټي پي دغه ناکامه حمله چې په هغې کې درې ځانمرګي برید کوونکي ووژل شول، په جنوبي ضلعو کې د ناکراریو د خورولو هڅې ته یو غټ ګوزار دی۔

ټي ټي پي ناکامه هڅه کوي چې د نوي جعلي تنظیم سره د دې ناکام برید پلان کولو سره نوې ډرامه جوړه کړي۔ انشاءالله ټي ټي پي به د خوارجو له منځه وړلو ته دوام ورکړي۔

مورخه: ۱۵ دسمبر ۲۰۲۳ء

www.publicvoice.pk